دهقان
هفته‌نامه

## معياري کرنه؛ نړیوال بازارته لاس رسی
## زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوبیست‌ودوم ▪ شنبه ▪ ٦جدی ▪ ۱۳۹۹



# بلخ ته د کرنې وزیر سفر:
# سلگونه کرنیزې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شول

۳

## غزني کې د کرنې وزارت سېرنې کړنې او فعالیتونه



۴

### مروری بر وضعیت تولید عسل در کشور؛
## شیرینی‌ای که درمان‌گر است



۷

## د افغانستان سوېل ختیځ ځنگل لرونکي ولایتونه؛
## خوست پکتیا او پکتیکا



۵



## ننگرهار کې د چرگانو روزنې صنعت په پراخېدو ده؛
## په دې برخه کې ۲۴۸ میلیونه ډالره پانگونه شوې

په ننگرهار کې د چرگانو روزنې فارمونو وده کړې او په دې وروستیو کلونو کې په دغه ولایت کې د غوښینو چرگانو نږدې دوه زره فارمونه جوړ شوي، چې له دې ډلې څه باندې زر فارمونه یې فعالیت لري.
د چرگانو روزنې دغه شمېر فارمونه د ننگرهار ولایت په بېلابېلو ځنډو کې د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت او خصوصي سکټور په گډې همکارۍ جوړې شوي دي.
د ننگرها ولایت د رسنیو دفتر د کرنې او مالدارۍ خونې رییس انجنیر محمدقاسم یوسفي په حواله لیکي، چې د ننگرهار په ولایت کې د چرگانو روزنې په سوداگرۍ کې ۲۴۸ میلیونه امریکایي ډالر پانگوه شوې، چې زرگونو کسانو ته په کې د کاروبار زمینه برابره شوې ده.
د کرنې او مالدارۍ خونې مشر انجنیر محمدقاسم یوسفي وایي، چې د ننگرهار په ولایت کې د ۲۴۸ میلیونه ډالرو په پانگونې سره د غوښینو چرگانو دوه زره فارمونه جوړو شوي دي، چې له دې ډلې زر فارمونه یې فعال دي او هره ورځ د جلال آباد ښار د چرگانو مارکېټ ته تر ٦۰ زره پورې چرگان وړاندې کوي.
ښاغلی یوسفي وایي، چې په دې ولایت کې د هگیو د تولید درې بریډر فارمونه شتون لري. هغه له حکومته وغوښت که تر ۸۰ جریبه پورې ځمکه د چرگانو سکټور ته ورکړل شي، نو دوی به د هگیو تولید په موخه ۱۲ بریډر فارمونه جوړې کړي، چې له مخې به یې په یاد فارمونو کې یو میلیون او ۲۰۰ زره چرگان وساتل شي .
د کرنې او مالدارۍ خونې مشر انجنیر محمدقاسم یوسفي وایي، چې په دې ولایت کې د چرگانو خوراکي توکو اته تولیدونکې فابریکې او د چرگانو د پېر-پلور دوه مارکېټونه شتون لري، چې د پانگوالو ستونزې یې تر یوه کچه هواري کړې دي.
باید وویل شی،چې د کرنې وزارت په دې ولایت کې د چرگانو روزنې د پراختیا په پار گڼې برنامې پلې کړې، چې په دغو برنامو کې د چرگانو روزنې وړې او سوداگریزې فارمونه جوړول، د چرگانو فارم لرونکو ته روزنیزې برنامې په لاره اچول، ، پر چرگانو روزونکو د چرگانو روزنې اړونده توکي وېشل او دوی ته اسانتیاوې برابروې شامل دي.

## گپ دهقان

# بلخ، یکی از نمونه‌های تطبیق موفقانه‌ی پروژه‌های زراعتی است

در هفته‌ی گذشته صدها پروژه‌ی زراعتی در سفر وزیر زراعت به ولایت بلخ، به بهره‌برداری سپرده شد.
مجموع بودجه امسال وزارت زراعت برای ولایت بلخ ۶۸۳ میلیون افغانی بوده است که حالا و در آستانه‌ی پایان سال مالی ۱۳۹۹، نزدیک به تمام پروژه‌های زراعتی امسال در این ولایت تکمیل شده است. در جریان سال روان مالی در ولایت بلخ در کنار دیگر پروژه‌های زراعتی‌ای که تطبیق شده، مجموعاً ۶۰۳ پروژه در قالب مدیریت محصولات زراعتی به ارزش ۳۱۰ میلیون افغانی عملی گردیده است.
تکمیل کار ساخت چهار شبکه‌ی آبیاری به ارزش بیش‌تر از ۷۰.۷۴ میلیون افغانی در ولسوالی دهدادی، از دیگر کارهای انجام یافته در بخش زراعت در ولایت بلخ است.
این شبکه‌ها، عبارت از شبکه‌های آبیاری قریه‌های چهل‌گزی، بابه‌کهنه حسین‌خیل، بابه‌قشقار و لنگرخانه‌ی خرد ولسوالی دهدادی است و در جریان یک سال گذشته ساخته شده است. ساخت این شبکه‌ها را صندوق بین‌المللی برای انکشاف زراعت «IFAD» تمویل کرده است.
تطبیق‌کننده‌ی ساخت شبکه‌های آبیاری، پروژه‌ی زراعت و مالداری به اشتراک مردم «CLAP» و برنامه‌ی حمایت از اولویت ملی دوم«SnaPP۲»، هستند: پروژه‌هایی مربوط به وزارت زراعت.
هم‌چنان ۱۴۵ کشمش‌خانه در ولسوالی‌های نهرشاهی، دهدادی، شولگره، مارمل، چهاربولک، چمتال، دولت‌آباد، کشنده، بلخ، کلدار و شورتپه ساخته شده است. هر یک از این کشمش‌خانه‌ها ظرفیت تبدیل ۱۰ تن انگور را به کشمش در یک نوبت دارند. هزینه‌ی مجموعی ساخت ۱۴۵ کشمش‌خانه‌ی یادشده ۶۰ میلیون و هشت هزار و ۲۵۰ افغانی می‌شود. این کشمش‌خانه‌ها برای باغداران ساخته شده و وزارت زراعت ۹۰ درصد هزینه‌ی آن را پرداخته است. مستفیدشونده‌گان تنها ۱۰ درصد هزینه را متقبل شده‌اند.
هدف از ساخت این کشمش‌خانه‌ها، زمینه‌سازی برای رشد اقتصاد باغداران و جلوگیری از فاسد شدن و یا فروش انگور به بهای اندک است. بهره‌برداری از ۳۰۰ ذخیره‌گاه پیاز پروژه‌ی مدیریت محصولات زراعتی از کارهای دیگر زراعتی در بلخ در جریان سال مالی ۱۳۹۹ است. این ذخیره‌گاه‌های پیاز در ۱۱ ولسوالی ولایت بلخ، با هزینه‌ی مجموعی ۱۴۷ میلیون و ۷۰۱ هزار و ۴۰۰ افغانی ساخته شده است.
باید گفت که امسال مسلخ ولایت بلخ نیز تکمیل شده است. این مسلخ معیاری، به هزینه‌ی شش میلیون دالر از کمک‌های بانک انکشاف آسیایی به صورت معیاری در ۲۵ جریب زمین ساخته شده است و آماده‌ی بهره‌برداری می‌باشد. این مسلخ در هشت ساعت کار، ظرفیت ذبح و پروسس ۱۰۰ گاو و ۵۰۰ گوسفند را دارد. ساخت و فعالیت مسلخ‌های معیاری باعث ایجاد فرصت‌های شغلی، بلند رفتن درآمد سکتور خصوصی و دولتی و بهبود محیط زیست می‌گردد و جلو کشتار حیوانات به شکل پراکنده و غیر معیاری را می‌گیرد. بلخ، یکی از ولایت‌های مهم زراعتی کشور است و در بخش‌های مالداری و تولید لبنیات و باغداری، از جمله تولید انار، نیز همواره جایگاه برتر تولیدی داشته است. همه‌ی مواردی که یاد شد، نشان می‌دهد که بلخ از نگاه زراعتی در مسیر درستی حرکت می‌کند و یکی از نمونه‌های موفقیت در بخش عملی‌سازی پروژه‌های زراعتی در کشور است.
چنان‌که رهبری وزارت در بلخ گفت، وزارت زراعت می‌کوشد که در سال آینده نیز زمینه‌ها و ظرفیت‌های بیش‌تری را برای رشد زراعت و مالداری در آن ولایت، هم‌سان با نیازهای دهقانان و مالداران و هم‌مانند ولایت‌های دیگر فراهم بسازد. به همین خاطر است که در نظر دارد ضمن این که پروژه‌ی مدیریت محصولات زراعتی در بلخ را تداوم می‌دهد، در بخش‌های آبیاری و مالداری، نیز به منظور خودکفایی در سکتور لبنیات و در بخش باغداری از طریق تطبیق پروژه‌های مختلف توجه خواهد کرد تا سرمایه‌گذاری بیش‌تر شود و مؤثریت کارها در بخش زراعت افزایش یابد.

# کندهار کې سږ کال څه باندې ۲۹ ټنه شات تولید شوي



د کندهار ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د یاد ولایت له بېلابېلو فارمونو څخه څه باندې ۲۹ ټنه شات تولید شوي دي.
د کندهار د کرنې رییس سید حفیظالله سیدي وايي، چې د کندهار په ګڼو ولسوالیو کې د شاتو مچیو روزنې او تولید ۵۷ فارمونه شتون لري، چې له یادو فارمونو څخه سږ کال څه باندې ۲۹ټنهشات تولید شوي دي.
ښاغلی سیدي زیاته کړه، چې د کندهار مرکز په ګډون ددې ولایت ډنډ، ژړۍ، ارغنداب او پنجوايي هغه ولسوالۍ دي، چې د نور په پرتله زیات شات ترې راټولېږي خو دکندهار پاتې نورې ولسوالۍ یې هم د شاتو په تولید کې مهم رول لري.
د یاد ولایت د کرنې ریاست وايي، چې په دغه ولایت کې د شاتو د تولید او روزنې په پار له فارم لرونکو سره هر اړخیزې همکارۍ، د اړوندو توکو وېش، د ناروغیو مخنیوي ضد درمل وېشل او فارم لرونکو ته روزنیزې برنامې په لاره اچول هغه چارې دي، چې راون کال د یاد ولایت فارم لرونکو ته ترسره شوي دي.
افغانستان کې د بدخشان، تخار، بلخ، هلمند، پنجشیر، ننګرهار، پروان، کاپیسا، غزني او هرات ولایتونو شات تر نورو نوموتي شات دي. د شاتو مچیو روزلو لپاره تر ډېره غرنۍ سیمې او هغه سیمې چې پاکه هوا، طبیعي بوټي او ګلان ولري غوره بلل کیږي، چې په یادو سیمو کې د روزل شویو مچیو شات تر نورو ښه کیفیت لرونکي او غوره شات دي.

# جوزجان کې د سویابینو حاصلات ۲۰۰ ټنو ته ورسېد



د جوزجان ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، سږکال ددې ولایت په سل هکټاره ځمکه کې سویابین کرل شوي وه، چې له دغو کروندو څخه ۲۰۰ ټنه سویابین راټول شوي دي.
د جوزجان ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس محمدعالم عالمي وايي، د جوزجان ولایت مرکز شبرغان په ګډون ددې ولایت د اقچې، خانقا، قرقین او خماب ولسوالۍ د سویابینو تولیدوونکې سیمې دي.
ښاغلی عالمي وویل، چې په دې ولایت کې د سویابینو کرکېلې دودولو او د تولید زیاتوالي په پار ددې ولایت پر ۲۵۰ بزګرانو د سویابینو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرو وېشلو ترڅنګ د کرنې ریاست له خوا په دې ولایت کې د سویابینو ۱۵ ننداریزې قطعې هم جوړې شوي دي.
د جوزجان د سویابینو یو کروندګر عبدالوهاب وايي: «د جوزجان دکرنې ریاست له خوا موږ ته د سویابین د عصري کرکېلې په موخه د سویابینو ننداریزې قطعې جوړې شوې، او موږ ته پکې د سویابینو په برخه کې روزنه ورکړل شوه.» د عبدالوهاب په خبره د ننداري قطعې ترڅنګ دوی ته د سویابینو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سروې هم ورکړل شوي دي. عبدالوهاب وايي ما سږکال د کرنې ریاست د ترویج کارکوونکو د لارښونو مطابق په یونیم جریبه ځمکه کې د سویابینو ۲۰۰ کیلو تخم کرلې وه، چې ۳۳۶ کیلو سویابین مې ترې راټول او بازار ته وړاندې کړه. عبدالوهاب وویل: «د کرنې ریاست د ترویج کارکوونکو په سلا مشورو سره ما له یونیم جریبه ځمکې څخه ۳۳۶ کیلو سویابین راټول کړ په داسې حال کې، چې مخکې به مې له همدې یونیم جریبه ځمکې څخه څه باندې ۷۰ کیلو حاصل ټولول.»
د جوزجان د کرنې ریاست هڅه کوي، چې جوزجان کې سویابین ترویج کړي او په راتلونکو کلونو کې دالړۍ نوره هم وغځوي او د ولایت په کچه ترې ټول ځمکوال برخمن کړي.
سویابین بشپړه پروټیني او مغذي مواد لري او د کورنیو په روغتیا په ځانګړي ډول د ماشومانو د خوارځواکۍ په مخنیوي کې رغنده رول لري.

# پکتیا کې بزګرو مېرمنو لپاره ۱۵۰ وړې شنې خونې جوړېږي



د کرنې، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» له لارې د ژمي په موسم کې د سبو تولید په پار د پکتیا په مرکز او شپږو ولسوالیو کې پر ۱۵۰ بزګرو مېرمنو د شنوخونو جوړولو په پار د شنوخونو جوړولو د اړوندو توکو د وېش لړۍ د پکتیا له مرکز ګردیز څخه پیل شو. د یادو شنوخونو د جوړولو توکي، ددغو کورنیو نارینه و ته وسپارل شوه.
د پکتیا د کرنې رییس محمد دین مومند وايي، چې دغه شنې خونې، د کرنې وزارت د بنوالۍ اومالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ د پکتیا د مرکز په ګډون ددې ولایت د زرمت، احمدآباد، سیدکرم، میرزکه، لجه منګل او ځاځي اریوب ولسوالیو کې ۱۵۰ مېرمنو ته جوړېږي.
د یادو شنوخونو ترڅنګ پر دغو مېرمنو د بېلابېلو سبو تخمونه هم وېشل کیږي او همداراز دغو مېرمنو ته په شنوخونو کې د سبو کرکېلې او پالنې لارې چارې هم ښودل کیږي.
له څو کلونو را په دې خوا په پکتیا ولایت کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د بنوالۍ اومالدارۍ ملي پروژې له خوا د وړو شنوخونو د وېش لړۍ پیل شوې د ه، چې ښې پایلې لري.
له کومه ځایه چې سابه د سالمې تغذیې ډېره مهمه سرچینه ده، د کرنې وزارت د کورنیو د سالمې تغذیې په پار او مېرمنو لپاره د دندې ایجادولو په موخه هر کال په ټول هېواد کې پر مېرمنو سلګونه وړې شنې خونې وېشي.

## بلخ ته د کرنې وزير سفر:

# سلگونه کرنيزې پروژې گټې اخيستنې ته وسپارل شول

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير انوارالحق احدي بلخ ولايت ته دخپل سفر په ترڅ کې، يوشمېر پروژې گټې اخيستنې ته وسپارل. دغه راز ښاغلی احدي له يوشمېر پروژو او کرنيزو بنسټونو څخه د ليدنې او څارنې ترڅنگ، د يوشمېر کرنيزو پروژو چارې پيل کړې. ددې سفر په لړ کې ښاغلی احدي له يوشمېر چارواکو له ډلې، دبلخ والي، د اسلامي جمعيت اجرايي مشر عطامحمدنور او د بلخ ولايت له يوشمېر نورو مخورو سره ليدنې او خبرې اترې وکړې.

د بلخ ولايت چارواکو د کرنې له وزير سره په جلاجلا برنامو کې د کرنې او مالدارۍ پراختيا او د بڼوالۍ پر پرمختيا خبرې اترې وکړې.

د بلخ والي محمدفرهاد عظيمي د کرنې وزير سره په ليدنه کې د کرنيزو پروژو د پلي کېدو په هکله خبرې وکړې او د هغې پاملرنې له امله چې د بلخ ولايت کرنې اومالدارۍ ته شوي دي، د کرنې له وزير څخه مننه وکړه. ښاغلی عظيمي وويل، د بلخ ولايت دکرنې په برخه کې يولړ کړنې ترسره شوي دي خو اړتيا ده، چې په دې ولايت کې کب روزنې، مالدارۍ، د آمو سيند پر غاړه د اوبولگولو د پروژو پر پلي کېدو او د بڼوالۍ پر پراختيا لاډېرې پاملرنې ووشي ترڅو په دې برخه کې پانگونې ډېرې شي.

د بلخ په ولايت کې گټې اخيستنې ته د پيازو د ۳۰۰ زېرمتونونو د سپارلو په غونډه کې د بلخ د ولايتي شورا مشر، محمدافضل حديد په دې ولايت کې د کرنيزو پروژو له پلي کېدو څخه دملاتړ د اعلان ترڅنگ، د بلخ ولايت بزگرانو لپاره داصلاح شويو تخمونو او کيمياوي سرو د ډېرېدو غوښتنه وکړه او وويل، چې په دې ولايت کې ډېر بزگران فعاليت لري او بايد په دې ولايت کې کرنه ميکانيزه شي او د پور ورکونې کچه زياته شي. هغه دغه رازغوښتنه وکړه، چې راتلونکی کال مالدارۍ ته بايد ډېره پاملرنه ووشي او ترڅنگ يې د آمو سيند له اوبو څخه د بلخ د کرنې په موخه گټه پورته شي.

په همدې توگه په دې غونډه کې د بلخ مالي او اداري مرستيال غلام فاروق خپلواک، د بڼوالۍ او کب روزنې په برخه کې پر پانگونې او د اوبولگولو د پروژو پر پلي کېدو ټينگار وکړ او د بلخ په ولايت کې د کرنيزو محصولاتو مديريت د پروژې د دوام غوښتونکی شو.

**د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير ډاکټر انوارالحق احدي د بلخ په ولايت کې گټې اخيستنې ته د پيازو د زېرمتونونو سپارلو غونډې ته په وينا کې وويل، چې د کرنې وزارت نه يوازې د بلخ په ولايت کې بلکه، د هېواد په کچه سږکال د ٦.۸ ميليارډه افغانيو په لگښت، د کرنيزو محصولاتو مديريت پروژه پيل کړه، چې په کې زرگونه ودانۍ(مميزخونې، د پيازو او کچالو زېرمتونونه، د مڼو او انارو صفردرجې سړې خونې او د مېوو او سبو وچوونکي ماشينونه» شامل دي.**

**د کرنې وزير وويل، چې په بلخ کې سږکال د کرنيزو محصولاتو مديريت اړوند ٦۰۳ پروژې پلي شوي دي. د ښاغلي احدي په خبره د بلخ ولايت لپاره د کرنې وزارت سږني ټوليزه بوديجه ٦۸۳ ميليونه افغانۍ ده. ښاغلی احدي وويل، ددې ترڅنگ چې په راتلونکی کال کې د بلخ په ولايت کې د کرنيزو محصولاتو مديريت پروژه غځېږي، د اوبولگولو، مالدارۍ برخو او د لبنياتو سکټور کې ځان بسياينه او د بڼوالۍ د پراختيا په پار د بېلابېلو پروژو له لارې پاملرنه کيږي، ترڅو د پانگونې کچه زياته او د کړنو اغېزمنتوب زيات شي.**



د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير ډاکټر انوارالحق احدي د ۱۳۹۹يم کال د مرغومې دربيمه د سې شنبې په ورځ د بلخ له والي سره په ليدنه کې وويل، چې د روان مالي کال په ترڅ کې د نورو پلي شويو کرنيزو پروژو ترڅنگ د بلخ په ولايت کې، د کرنيزو محصولاتو مديريت د پروژې په اډانه کې د ۳۱۰ ميليونه افغانيو په لگښت په ټوليزه توگه ٦۰۳ پروژې پلي شوي دي.

دکرنې وزير دغه راز زياته کړه، چې راتلونکی کال د کرنيزو محصولاتو مديريت د پروژې د غځېدو ترڅنگ، د بلخ په ولايت کې به يوشمېر نورې پروژې هم پلي او بېلابېلو برخو ته به پاملرنه ووشي.

د اوبولگولو د شبکو پرانسته

د کرنې وزير د بلخ د دهدادي په ولسوالۍ کې د څه باندې ۷۰.۷۴ ميليونه افغانيو په لگښت د اوبولگولو څلور شبکې گټې اخيستنې ته وسپارل. دا شبکې د چهل گزې، بابه‌کهنه حسين‌خيل، بابه‌قشقاراو لنگرخانې د کليو د اوبولگولو شبکې دي، چې د تېر يوه کال په ترڅ کې د دهدادي په ولسوالۍ کې جوړ شوي دي. ددغو شبکو د رغولو تمويل کوونکی د کرنې د پراختيا نړيوال صندوق «IFAD» دی او د خلکو په گډون دکرنې او مالدارۍ پروژه «CLAP» او له دويم ملي لومړيتوب څخه دملاتړ پروژې «Snapp۲»، له خوا چې دواړه د کرنې وزارت اړونده پروژې عملي شوي دي.

په همدې حال کې، ښاغلی احدي د ۱۱ميليونه او ۳۹٦زره او ۲۵۸.۵ افغانيو په لگښت د دهدادي ولسوالۍ د جرگې کلي د اوبولگولو د شبکې رغنيزې چارې پيل کړې.

۱۴۵ مميزخونې گټې اخيستنې ته سپارل

دکرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير ډاکټر انوارالحق احدي بلخ ولايت ته دخپل سفر په ترڅ کې دنورو کرنيزو پروژو دپرانستې ترڅنگ په دې ولايت کې ۱۴۵مميزخونې گټې اخيستنې ته وسپارل.

ياد مميزخونې د نهرشاهي، دهدادي، شولگرې، مارمل، چهاربولک، چمتال، دولت آباد، کشنده، بلخ، کلدار اوشورتېپې په ولسواليو کې جوړې شوي دي. دغه مميزخونې هريوه يې په يوه وخت کې مميزو ته د ۱۰ټنه انگورو دبدلولو وړتيا لري.

د ياد ۱۴۵جوړ شويو مميزخونو د رغولو ټوليزلگښت ٦۰ميليونه، اته زره او۲۵۰ افغانۍ ده.

دغه مميزخونې انگورو بڼوالو ته جوړ شوي، چې ۹۰ سلنه لگښت يې دکرنې وزارت او لس سلنه لگښت يې برخمن شوي بڼوال ورکړي دي.

ددغومميزخونو دجوړولو موخه دبڼوالو اقتصادي ودې ته زمينه برابرول او د انگورو دخوساکېدو او په ټيټه بيه دپلور مخنيوی ده.

د پيازو ۳۰۰ زېرمتونونه گټې اخيستنې ته سپارل

دکرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير ډاکټر انوارالحق احدي، بلخ ولايت ته دخپل سفر په ترڅ کې د کرنيزو محصولاتو پروژې له خوا جوړ شوي د پيازو ۳۰۰ زېرمتونونه د هدادي په ولسوالۍ کې د پيازو د څو زېرمتونونو په پرانستې سره گټې اخيستنې ته وسپاره. د پيازو ياد زېرمتونونه د بلخ ولايت په ۱۱ ولسواليو کې، د ۱۴۷ ميليونه او ۷۰۱ زره او ۴۰۰ افغانيو په لگښت جوړ شوي دي.

د بلخ مرستيال والي، د ولايتي شورا رييس او د بلخ ولايت يوشمېر نورو سيمه ييزو چارواکو او بزگرانو په دې غونډه کې د ښاغلي احدي ملتيا کوله.

له بشپړ شوي مسلخ څخه ليدنه

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزير ډاکټر انوارالحق احدي بلخ ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د بلخ والي محمدفرهاد عظيمي او ددې ولايت له يوشمېر نورو سيمه ييزو چارواکو سره، د بلخ له معياري مسلخ څخه ليدنه او نظارت وکړ.

د بلخ ولايت مسلخ، د آسيايي پراختيايي بانک په مرسته د شپږ ميليونه ډالرو په لگښت په ۲۵ جريبه ځمکه کې په معياري ډول رغول شوی دی او گټې اخيستنې ته چمتو ده.

ياد مسلخ په اته کاري ساعتونو کې، د ۱۰۰ غواوو او ۵۰۰ وريو د ذبحې او پروسس وړتيا لري.

د معياري مسلخونو جوړول او فعاليت د دندې زمينه برابروي، د خصوصي سکټور د عوايدو د لوړوالي او د چاپېريال ساتنې لامل کيږي او د څارويو د غيرمعياري ذبحې مخه نيسي.

بايد وويل شي، چې د بلخ ولايت د هېواد يو له مهمو کرنيزو ولايتونو څخه دی او د مالدارۍ، لبنياتو توليد او بڼوالۍ په برخو کې، له ډلې د انارو په توليد کې، هم تل لوړ توليدي ځای خپل کړئ دی.



درخشان صديقي
خبرنگار

# سه‌هزار جریب زمین در ۲۰ ولایت «گوشت زمینی» کشت شده است

سویابین به دلیل ارزش بلند غذایی‌اش به گوشت زمینی نیز مشهور است. در افغانستان نیز کشت این گیاه هر سال نسبت به سال گذشته افزایش می‌یابد و مردم به اهمیت استفاده از آن آگاه‌تر می‌شوند.

امسال نزدیک به سه‌هزار جریب زمین در ۲۰ ولایت سویابین کشت شده است و پیش‌بینی می‌شود که از آن یک‌هزار تُن سویابین حاصل گرفته شود. سال گذشته یک‌هزار و ۱۸۸ هکتار زمین سویابین کشت شده بود.

ریاست توسعه غله‌جات می‌گوید که وزارت زراعت آبیاری و مالداری به همکاری موسسات همکار و انجمن‌های سویابین، کار بیش‌ترین کشت سویابین را در ولایت‌های پروان، کاپیسا، بلخ ، تخار، بغلان، کندز، ننگرهار، لغمان، هرات و هلمند انجام داده است.

سویابین یک نبات مهم غذایی است و جاهای کاربرد آن با گذشت هر روز بیش‌تر شده است. هدف عمده و اساسی از استفاده دانه سویابین، تهیه آرد و تولید روغن است اما برعلاوه از آن، از این نبات در کشورهای پیش‌رفته استفاده‌های بیش‌تری می‌کنند.



دانه سویابین نظر به انوع آن حاوی ۳۳-۴۵ درصد پروتین است. از مطالعه خواص فیزیولوژیکی نبات سویابین معلوم شده است که پروتین آن نزدیک به پروتین گوشت بوده و هم پروتین آن دارای «فاسفوریک‌اسید» و «لستین» می‌باشد. پروتینی که از سویابین به دست می‌آید خیلی اقتصادی و ارزان است و همین رو، در اکثر کشورهای در حال رشد، ۱۰ درصد آرد سویابین را با آرد گندم مخلوط کرده و از آن نان تهیه می‌کنند.

تولید و عاید سویابین نسبت با سایر نباتات که پس از برداشت حاصل گندم کشت می‌شود بیش‌تر است. مازاد سویابین بازار مناسب دارد و کشت این گیاه نیز سبب حاصل‌خیز شدن خاک می‌گردد. سویابین تاثیر مثبت بر رشد و سلامت کودکان دارد و این محصول امروز به قیمت مناسب در بازارهای افغانستان پیدا می‌شود.

شهروندان افغانستان به دلیل مواجهه با سال‌ها جنگ، نیازمندی شدیدی به تغذیه مناسب دارند. آن طوری که صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل، یونیسف، در یک گزارش سال گذشته اعلام کرد که بیش از دو میلیون کودک در افغانستان به سوء تغذیه شدید دچار اند.

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به همکاری موسسه تغذیه و تحصیل بین‌المللی،«NEI»، از سال ۲۰۰۳ به این سو جهت رفع مشکل گرسنه‌گی و کاهش موارد سوء تغذیه در میان زنان و کودکان در نواحی روستایی شروع به فعالیت کرده است.



عبدالواسع خان‌زاده
خبریال

# غزني کې د کرنې وزارت سرېني کړنې او فعالیتونه

د غزني د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې دکرنې وزارت په روان مالي کال کې دغزني ولایت دمرکز په ګډون ددې ولایت په ټولو ولسوالیو کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په ګډون دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخو کې د بېلابېلو پروژو پلي کولو په پار ۲۶۹ میلیونه او ٦۸۸ زره افغانۍ پراختیایي بودیجه ځانګړې کړې وه، چې د نورو ګڼو پروژو ترڅنګ د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې چارې د بشپړې په درشل کې دي او ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د غزني دکرنې ریاست چارسمبال عبدالولي کوچي وایي، چې د غزني په ولایت کې د کرنیزو محصولاتومدیریت دپروژې په اډانه کې ۴۵ ممیزخونې، د کچالو ۵۹ زېرمتونونه، د پیازو ۱۸ زېرمتونونه او د مڼو پنځه صفر انرژۍ سړې خونې جوړول او د سبو او مېوو دوه وچوونکي لمریز دستګاوې شامل دي، چې یوشمېر یې د بشپړېدو په درشل کې دي او یوشمېر یې ګټې اخیستنې ته چمتو شوي دي.

د غزني د کرنې چارسمبال وایي، چې په ۱۳۹۹یم کال کې ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په پار هم هلې ځلې شوي، چې په ترڅ کې یې شپږ زره او ۹۰۹ جریبه ځمکې لپاره ۴٦۷۰ زره او ۳٦ نیالګي وېشل شوي، په ۲۴ جریبه ځمکه کې د مڼو او ناکو متراکم اونیمه متراکم بڼونه جوړ شوي، په ۳٦ جریبه ځمکه کې لس زره او ۲۸۲ متراکم او نیمه متراکم نیالګي اېښودل شوي دي، د الوبخاراوو مسوول لپاره دفتر او د برېښنایي مالوماتو مرکز جوړول او د الوبخاراوو د ۲۵ جریبه بڼونو د بیارغونې په موخه توکي پېرل. ددې ترڅنګ، ۱۰۰ مېرمنو ته د خوړو د پروسس په برخه کې روزنه ورکړل شوي او ترڅنګ یې د خوړو د پروسس اړونده توکي هم پر دوی وېشل شوي دي او پر بزګرانو د سبو څه باندې ۷۲ کیلوګرامه تخمونه وېشل هغه چارې دي، چې په روان کال کې تر سره شوي دي.

د ښاغلي کوچي په خبره د یادو فعالیتونو ترڅنګ د روان کال په ترڅ کې پر ۱۵ بزګرانو د زعفرانو اووه زره او ۵۰۰ کیلو پیاز وېشل، پر ۵۲۲ بزګرانو د غنمو لس زره او ۴۴۰ ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل، ۲۱ بزګرانوته د غنمو نندارېزې قطعې جوړول، په ۲۰۰ جریبه ځمکه کې د خټکیو د مچ کنټرول، ۱۲۰ زره نیالګیو کې د مور پتدار کیمیاوي کنټرول، د چاپېریال ساتنې او سمسورتیا په پار د ۱۲ هکټاره زرغون کمربند ساتنه اوپالنه او د خنجرکلا د ګبیون استنادي دېوال جوړول نور هغه کړنې دي، چې په روان کال کې د غزني د کرنې ریاست له خوا ترسره شوي دي.

د چاروکو په خبره سږکال ددې ولایت د مالدارۍ د پراختیا په پار هم د پام وړ کړنې ترسره شوي دي. د غزني دکرنې چارسمبال عبدالولي کوچي وایي، چې د طاعون او بروسلوز پر وړاندې ۲۱۷زره او ۵۰۰ څارویو ته واکسین ورکول، د کانګو تبې پر وړاندې دمبارزې کمپین، چې په ترڅ کې یې څلور زره غوجلې او ۳۰ زره څاروي دواپاشي شوي دي او ترڅنګ یې د شېدې ټولولو یو مرکز جوړول او سمبالول هغه چارې دي، چې د مالدارۍ د پراختیا په پار په دې ولایت کې تر سره شوي دي.



د غزني شاوخوا ۷۰ سلنه اوسېدونکي په کرنه او مالدارۍبوخت دي، دغه ولایت پراخې اوبېزې او للمي کرنیزې ځمکې لري، که څه هم د دغه ولایت یو څه اندازه کرنیزې ځمکې له بندونو او چینو خړوبیږي، خو کاریزونه په کې ډېر دي او کاریزونه د دغه ولایت د ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو مهمې سرچینې بلل کېږي.

دغه ولایت د کرنې لپاره مساعدې او حاصل خیزې ځمکې لري، چې بېلابېل ډول مېوې لکه انګور، زردالو، الو، مڼې، بادام، توت، شفتالو، هیندواڼې، خټکي، ګیلاس، انځر او داسې نورې په کې ښه وده او ډېر حاصل ورکوي.

د غزني ځمکې د غلو دانو او سبزیجاتو د حاصلاتو له پلوه هم بې ساري دي، غنم، وربشې، لوبیا، نخود، عدس، شرشم او د سبزیو په برخه کې لکه کچالو، پیاز، ملۍ، ګازرې، ګندنې، نعنا، کشنیز، کدو، بادرنګ، تره، کرم، شلغم، رومي او تور بادنجان او داسې نور د دغه ولایت کرنیز حاصلات جوړوي.

نورالله پتمن
خبریال

# د افغانستان سوېل ختیځ ځنګل لرونکي ولایتونه؛ خوست پکتیا او پکتیکا

په هېواد کې د ځنګلونو پراخوالې د خدای پاک له لویو نعمتونو څخه شمېرل کیږي، چې د هسکو غرونو ښکلا د همدې ځنګلونو منندوی ده. که ځنګلونه نه واي چاپیریال به بدرنګه او وران ښکاریده، په وچو دښتو اوبیابانو هیڅ درد نه دواه کیږي. داچې له یوه پلوه زرغونې سیمې او شنه بڼونه چاپېریال ښایسته کوي، له بله پلوه د انسان د ښه ژوند تظمین هم کوي.

هغه څه، چې د چاپېریال د ککړتیا په راکمولو او له منځه وړلو کې مرسته کوي یوازې زرغونې سیمې، بڼونه او ځنګلونه دي له بده مرغه تر کومه چې انسان په ساینسي تکنالوژی او نورو علومو کې وړاندې تګ کړی او خپل ژوند کې یې بدلون راوستی د خپل تمدن د اړتیاو د پوره کولو لپاره یې د ځنګلونو په بې رحمانه ډول د پرېکولو څخه هم ډډه نه ده کړې، چې تر ټولو ناوړه پایله یې د ککړ چاپېریال رامنځ ته کول دي.

ځنګلونه له یوه پلوه چاپېریال پاک ساتي، د سېلابونو مخه نیسي او د وحشي ژوو کورونه په خپله غېږ کې لري او د بل پلوه د طبي بوټو په وده او نمو کې مهم رول لوبوي اوهم زمونږ لپاره پاکه او تازه هوا برابروي.

همدا راز ځنګلونه د ژوند ارزښت لرونکي اړتیاوې هم برابره وي، چې په ګڼو برخو لکه د سون لرګیو، ودانیزو چارو، د مېوو او نورو فرعي محصولاتو په توګه ترې کار اخېستل کیږي، چې دا ټول د انسانانو او وحشي حیواناتو د ژوند کولو لپاره خورا اړین دي.

ځنګلونه د وخت په تېریدو سره خپل ارزښت زیاتوي او ورځ تر بلې پراختیا مومي که څه هم له ځنګلونو څخه د ټکنالوژی په پرمختګ سره ډېره ګټه اخېستل کیږي نو په څنګ کې یې د ډېرښت لپاره له داسې لارو چارو څخه کار اخېستل کیږي چې په کم وخت کې یې د احیا لپاره زیات شرایط برابریږي چې دا خورا ټولنیز او اقتصادي ارزښت هم لري.

د افغانستان ډېر ولایتونو خوست، پکتیا، پکتیکا، کونړ، نورستان، ننګرهار، لغمان، سمنګان او نور ګڼ شمیر ځنګلونه او غرنیزې سیمې لري، چې هر ولایت او سیمه یې خپلې ارزښتناکې مېوې لکه جلغوزي، چهارمغز، بادام او نور طبي بوټي او پیداور لري، چې د هېواد د خلکو په ورځیني ژوند یې ښه اغېزه کړې ده.

د پورتنیو یادو ولایتونو له ډلېخوست، پکتیا او پکتیکا د افغانستان په سوېل ختیځ کې پراته غرني ولایتونه دي، چې د هېواد نورو ولایتونو ته په کتو ډېر طبیعي ځنګلونه، مشهورې مېوې، طبي بوټي او سابه لري. یاد ولایتونه د چهارمغزو او جلغوزیو له پلوه هم په ځان بسیا دي، چې هر کال ترې په زرګونه متریک ټنه جلغوزي، غوزان، بادام او نورې ګڼې مېوې د خلکو په همکارۍ د بېلابېلو ولسوالیو څخه راټولې او د پېر او پلور لپاره بازارونو ته وړاندې کیږي.



خوست د هغو ولایتونو په ډله کې ده، چې د بېلابېلو کرنیزو توکو د کرکېلې لپاره مناسبه هوا لري په دې ولایت کې ګڼې مېوې او نور ډول کرنیز توکي کرل کیږي، چې هر یو یې ښه پایله ورکوي.

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د چارواکو په وینا په خوست ولایت کې شاوخوا ۱۱۸ زره او ۲۲۰ هکټاره ځنګلونهشتون لري، چې په کې جلغوزې، چهارمغز، نښتر، څېړۍ زیتون او ګڼې نورې مېوه لرونکي او بې مېوې ځنګلونه شامل دي.

د یادو ځنګلونو د بیا رغونې او پراختیا په برخه کې په خوست ولایت کې د ۳۶۰ کورنیو قوریو پروژه هم په لاره اچول شوې ده، چې له دې لارې به راتلونکي کال شاوخوا دوه میلیونه او ۱۶۰ زره نیالګي چمتو او پنځه زره هکټاره ځنګلونه به ورباندې بیا ورغول شي.

د ځنګلونو دبیارغونې ترڅنګ، کارموندنه او د ځنګل لرونکو اقتصادي ودې ته زمینه برابرول دیادو قوریو نورې ګټې دي.

د خوست تر څنګ پکتیا هم هغه ولایت دی، چې ګڼو ځنګولونو، څړځایونو او غرنیزې شنې سیمې یې، په ښکلا کې خورا ښه بدلون راوستی دی، چې په دې ورستیو کالونو کې ورته ډېره پاملرنه هم شوې ده .

د پکتیا ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د مالومات له مخې پکتیا ۱۰۷ زره ۲۲۰ هکټاره ځنګلونهلري، چې د پکتیا ۲۰ سلنه جوړوي. د دغو ځنګلونو ډېره برخه یې جلغوزي، څېړۍ، اوبښتې، ښون او غوزان دي.

د پکتیا د کرنې ریاست په وینا د ځنګلونو د پراختیا، بیا رغونې او ساتنې لپاره د دغه ولایت په اوو ولسوالیو شواک، احمدابا، سید کرم، ګرده څېړۍ، څمکنیو، ځاځې اریوب او جاني خېلو کې د جلغوزیو او چهارمغزو ۴۲۵ کورني قوریې هم په کروندګرو او خلکو وېشلې، چې له وخت سره سم به یې سمیې ته ولېږدوي، دوی د جوړو شویو قوریو پایله ښه بولي او هیله ښیي چې له دې لارې به په سیمه کې پاتې سیمې هم زرغونې شي.

احمدابا، سید کرم او ډنډ پټان هغه ولسوالۍ دی چې د ځنګولونو د بیارغونې لپاره پکې ۷۰ زره د غوزانو نیالګي هم اېښودل شوي دي، چې دا لړۍ به په راتلونکې کې نورو ولسوالیو ته هم وغځوي.

د خوست او پکتیا ولایتونو ته څېرمه پکتیکا هم هغه ولایت دی، چې د ځنګلونو پراخوالې یې شاوخوا ۳۵۴ زره او ۴۰ هکټارو ته راسیږي، چې د ټول ولایت څه باندې ۱۵ سلنه جوړه وي، چې ډېری ځنګولونه یې پلن پاڼي او ستن پاڼي دي لکه جلغوزي، لمنځ، نښتر، سرپ، څېړۍ او چهارمغز.

د پکتیکا د کرنې ریاست په وینا یاد ریاست په دې ولایت کې د ځنګلونو د پراختیا، بیارغونې او خوندیتوب په پار هلې ځلې کړې، چې د دې ولایت په پنځو ولسوالیو کې ۳۵۶ کورني قوریې جوړې شوي دي، چې تر ۶۰۰ پورې نیالګي پکې تر روزنې لاندې دي، چې له وخت سره سم به یې سمیې ته ولېږدوي، دوی د جوړو شویو قوریو پایله ښه بولي او هیله ښیي چې له دې لارې به له ځنګلونو څخه پاتې سیمې هم زرغونې شي.

همدا راز په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د ځنګولونو د قانون په اساس د لومړي ځل لپار د ځنګلونو د ساتنې، پراختا، بیارغونې او د ښې ګټې د تر لاسه کولو لپاره ګڼو مدیریتې ټولنو ته په بېلابېلو ولسوالیو کې د مدیریتي پلان له مخې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا په رسمي توګه د کاري فعالیت جوازلیکونه هم ورکړل شوي؛ چې د شوي تړون او ټولنو له مخې به ولسونه په دغه ولایتونو کې ځنګلونو او د ورکړل شویو کورنیو قوریو د روزنې او څارنې دنده په غاړه لري .

**د کرنې، اوبولګولو اومالداري وزارت د ځنګلونو د بیارغونې، پراختیا او ساتنې لپاره هڅې پیل کړي دي، چې په دې وروستیو کې د خوست او پکتیا ولایتونو د ځنګلونو د ساتنې او پراختیا په پار یو لړ قومي تړونونه هم لاسلیک شوي دي، چې په دې سره به د قومي مشرانو او ولسونو په همکارۍ به د ځنګلونو د بیارغونې او پراختیا چارې ترسره او د ځنګلونو د پرېکېدو مخه نیول کیږي.**

# خوست کې د چرګانو روزنې او تولید صنعت مخ په غوړېدو دی

د خوست ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې په دې ولایت کې د چرګانو روزنې او تولید صنعت ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دی .

د خوست ولایت د کرنې ریاست د مالدارۍ او حیواني روغتیا امر روښان جلالي وايي، چې دیاد ولایت په مرکز او اړوندو ولسوالیو کې د غوښینو چرګانو شاوخوا ۷۸۰ فارمونه شتون لري، چې د ورځې شاوخوا له ۱۰ زرو څخه تر ۱۵ زرو کیلو ګرامه پورې غوښین چرګان بازارته وړاندې کوي.

ښاغلی جلالي وايي، راون ۱۳۹۹یم کال د خوست ولایت په علیشیرو او سپیرې ولسوالیو کې د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ ۲۵۰ سل قطه یې فارمونه بې وزلو کسانو ته هم جوړ شوي دي او په څنګ کې یې د چرګانو روزنې اړوند توکي، د خوراکي توکو وېش، بې وزلو مېرمنو ته د ۱۴۴ هګیو چرګانو ورکړه، د ناروغیو ضد درمل، عامه پوهاوی او د همکارو پروژو له خوا د نویو فارمونو جوړښت هغه چارې دي، چې د کرنې ریاست او اړوندو پروژو له خواترسره شوي دي.

د خوست د کرنې ریاست د چارواکو په خبره ددې فارمونو د ډېرښت او همکاریو موخه د چرګانو د روزنې صنعت ته پراختیا ورکول، د بې کارۍ کچه کمول او مېرمنو ته په کور د ننه د کار زمینه برابرول دي.



# د خوست د سپیرې ولسوالۍ د توت کلي د ویالې او ناوو چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې ددې ولایت د سپیرې ولسوالۍ اړوند د توت کلي د یوې ویالې او درو ناوو رغنیزې چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

دخوست دکرنې رییس حفیظ الله شاه نوري وايي، چې په یاده پروژه کې د ۲۱ مترو په اوږدوالی ویاله په پاخه او اساسي ډول رغول شوی دی او ترڅنګ یې له خوړ نه د اوبو د تېرولو په پار د ۳۳ مترو په اوږدوالي سره درې ناوې هم جوړې شوي دي، چې لومړی ناوه یې ۱۳ متره، دویمه یې اته متره او درېیمه ناوه یې ۱۲ متره اوږدوالی لري، چې ټول په پاخه او اساسي ډول رغول شوي دي.

دښاغلي نوري په خبره له دې پروژې څخه د توت کلي اړوند ۲۴۰ کورنۍ ګټه پورته کوي او ترڅنګ یې د یادې پروژې په بشپړېدو سره د ویالې اوبه د ناوو په واسطه کرنیزو ځمکو ته ځي، چې په ترڅ کې یې ۲۵۰ جریبه للمي ځمکې د خړوبولو تر پوښښ لاندې راغلي دي.

حفیظ الله شاه نوري وویل، چې ددې پروژې ټولیز لګښت یو میلیونه افغانۍ ده، چې ۸۰ سلنه یې د کرنې ریاست د اړیکو دفتر او ۲۰ سلنه نور یې د یاد کلي اوسیدنکو پرې کړي دي.

ددې پروژې په پلي کېدو کې د سیمې یوشمېر اوسیدونکو ته دکار زمینه هم برابره شوې وه او ترڅنګ یې د اوبو له ضایعانو څخه مخنیوی کوی او دغه راز د هغو ځمکو کرنیز محصولات به هم لوړ کړي، چې د یادې ویالې او ناوو له لارې خړوبیږي.



# بادغیس کې د نخودو حاصلات ډېر شوي

د بادغیس ولایت دکرنې ریاست چارواکي وايي، چې د نخودو دکروندو د زیاتوالي له وجې دتېرکال په پرتله ددې ولایت د نخودو حاصلات د پام وړ زیاد شوي دي.

د بادغیس ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس عبدالتواب تایب وايي: «بادغیس کې سږکال پر دوه زره او ۹۳۵ هکتاره ځمکه کې نخود کرل شوې وه، چې له دغو کروندو څخه نږدې اووه زره او ۹٦ ټنه حاصل ترلاسه شوي دي.»

ښاغلی تایب زیاتوي: «تېرکال د وچکالۍ له وجې بزګران ډېر زیانونه ولید، زموږ بزګران د نخودو د کرکېلي وس نه درلود، نو له همدې وجې په لږه سیمه کې نخود کرل شوې وه او حاصل یې هم لږ و، خو له نېکه مرغه سږکال د مناسبې آب او هوا او ترڅنګ یې ددې ولایت دکرنې رایست د فني همکاریو له وجې، ددې ولایت په ډېرو سیمو کې نخود وکرل شوه او د نخودو حاصلات هم زیات شو.»

دا په داسې حال کې ده، چې دکرنې وزارت د احصایې او معلوماتو د شمېرو له مخې تېرکال د بادغیس ولایت په یوزر او ۹۹۹ هکتاره ځمکه کې نخود کرل شوې وه، چې له دغو کروندو څخه ثلور زره او ۹۹۷ ټنه نخود ترلاسه شوه.



دا شمېره د ۱۳۹۸یم کال په پرتله د کرکیلې په سیمه کې ۹۳٦ هکتاره زیاتوالي او په حاصلاتو کې دوه زره او ۹۹ متریک ټنه زیاتوالی ښيي.

د بادغیس ولایت په ټولو ولسوالیو کې نخود د للمي په ډول کرل کیږي، چې په دې ولایت کې تر ډېره له سیمه ییزو ورایټیو کار اخیستل کیږي. هرکال ددې ولایت د نخودو د پام وړحاصلات نورو ولایتونو ته صادریږي.

## مروری بر وضعیت تولید عسل در کشور؛

# شیرینی‌ای که درمان‌گر است



محمد تمیم صدیقی
گزارش‌گر

زنبورداری در افغانستان سابقه دیرینه دارد و فرآورده آن عسل می‌باشد که به نام شهد و انگبین نیز یاد شده است و از آن به عنوان یک خوراکه شیرین غذایی و دارویی استفاده می‌شود.
زنبور عسل این حشره مفید به طور دسته‌جمعی زنده‌گی می‌کند و انواع زیاد دارد. نوع عسلی آن که در کندو یا صندوق نگهداری می‌گردد، متشکل از سه نوع زنبور بوده که به نام‌های ملکه، کارگر و زنبور نر است، هر کدام از این زنبورها وظایف جداگانه دارند.
تکثیر زنبور عسل و حاصل‌دهی آن در هر موسم سال نظر به شرایط اقلیمی فرق می کند .
به گفته متخصصان بخش زنبورداری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، در سال‌های سابق دولت برای بهبود بخشیدن فارم زنبورداری این پروژه، به تعداد چند صندوق زنبور عسل از خارج وارد کرد.
در ذیل به شماری از ولایت‌هایی که بیش‌ترین عسل کشور را تولید می‌کنند، می پردازیم.

### تولید عسل در پکتیا

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت پکتیا می‌گوید که در اینِ ولایت، میزان تولید عسل امسال به ٩٠٠ تُن رسیده است.
محمدکبیر اسلمی، آمر صحت حیوانی و مالداری ریاست زراعت پکتیا می‌گوید که در سطح ولایت پکتیا، حدود ۴۵٠ فارم زنبورداری وجود دارد و از این فارم‌ها امسال حدود ٩٠٠ تُن عسل به دست آمده است.
به گفته‌ی آقای اسلمی، در ۴۵٠ فارم زنبورداری ٩۵ تا ١٠٠ هزار صندوق زنبور پرورش می‌یابند.
آقای اسلمی می‌گوید که در ولایت پکتیا عسل‌های گوناگون تولید می‌شود که مهم‌ترین و بیش‌ترین نوع‌های تولید آن «شونشوبی»، «لاچی»، «سپیرکی» و «سنجد» است. آموزش‌دهی و توزیع دوا به زنبورداران، کارهایی بوده است که ریاست زراعت پکتیا برای خدمت‌رسانی به زنبورداران ارایه کرده است. باید گفت که پکتیا، هوا و فضای مناسب برای زنبورداری دارد.

### عسل ننگرهار

ننگرهار حدود ۵٠٠ تن عسل تولید کرده است.
ننگرهار، ولایتی است که هوای خوبی دارد و به همین دلیل صفت همیشه‌بهار را هم با خود دارد. با آب و هوای بهاری، این ولایت در زنبورداری و تولید عسل در میان ولایت‌های کشور پیش‌تاز است، چنان‌که در سال روان، حدود ۵٠٠ تُن عسل تولید کرده است.
مسوولان ریاست زراعت ولایت ننگرهار می‌گویند که در این ولایت، نزدیک به ٦٠٠ فارم بزرگ و کوچک وجود دارد که در آن‌ها حدود ٣۵ تا ۴٠ هزار خانواده‌ی زنبور عسل در آن‌ها پرورش می‌یابند. به گفته‌ی مسوولان ریاست زراعت ننگرهار، در زنبورداری‌های ولایت ننگرهار، ٢٢ تا ٣٠ نوع زنبور وجود دارد. این زنبورداری‌ها، برای دو هزار نفر زن و مرد، زمینه‌ی کار را نیز فراهم ساخته است.
در سال‌های پسین پرورش زنبور و تولید عسل در ولایت ننگرهار رواج بیش‌تر یافته است و کسانی که در بخش زنبورداری در این ولایت مشغول‌اند، می‌گویند که از نگاه اقتصادی، این کار برای‌شان خرج زنده‌گی‌شان را فراهم و نیازهای اولیه‌شان را رفع می‌کند.
در بازارهای محلی ننگرهار به طور میانگین ارزش یک کیلو عسل ٢۵٠ تا ۵٠٠ افغانی است. عسل ننگرهار در کنار کابل، در شماری دیگر از ولایت‌ها نیز فروخته می‌شود.
به منظور بازاریابی برای تولیدات عسل و ایجاد ارتباط میان دولت، مؤسسه‌ها، پرورش‌دهنده‌گان زنبور و تولیدکننده‌گان عسل، وزارت زراعت انجمن تولیدکننده‌گان عسل را در این ولایت ساخته است. این انجمن در کنار حل مشکلات تولیدکننده‌گان عسل و پرورش‌دهنده‌گان زنبور عسل، روی رشد صنعت تولید عسل و افزایش تولیدات، نیز کار و همکاری می‌کند.
به گفته‌ی مسوولان انجمن تولیدکننده‌گان عسل ولایت ننگرهار، عسل این ولایت در ولایت‌های مختلف کشور فروخته می‌شود که همین اکنون در ولایت‌های هلمند، بلخ، کابل و هرات، این انجمن نماینده‌گی‌های فعال دارد و در کنار آن به دیگر ولایت‌ها نیز به صورت عمومی فروخته می‌شود. انجمن تولیدکننده‌گان عسل ولایت ننگرهار، در این ولایت پنج جای کار برای تولید عسل را نیز ساخته است.
ننگرهار، محیط و هوای مناسب برای تولید عسل و نگهداری زنبور عسل دارد و این دلیلی شده است که روز به روز، صنعت تولید عسل در این ولایت رشد کند.
نقاط کوهستانی، دارای هوای پاک، پوشیده با گیاهان طبیعی و گل‌ها، مکان‌های مناسب برای تولید عسل شمرده می‌شود و تولید عسل در مناطق دارای ویژه‌گی‌های یادشده، خوش‌کیفیت‌ترین و بهترین عسل است
سید حسن، یک تن از زنبورداران ولایت ننگرهار است. او می‌گوید: «شکر الحمدالله امسال تولید عسل خوب است و بازار داخلی خوب هم دارد، هر کیلو عسل را نسبت به کیفیت و نوع گل آن از ۵٠٠ الی یک هزار و ٢٠٠ افغانی می‌فروشیم.»
نجیب‌الله یک تن از زنبورداران ولسوالی کامه است. او می‌گوید که عسل کوهی نسبت به عسل که به گونه مصنوعی به دست می‌آید در قیمت و کیفیت فرق دارد و عسل کوهی طبعی خوش‌مزه با کیفیت است.
هم‌چنان از هرات خبر می‌رسد که این ولایت، ٢٠٠ تن عسل تولید کرده است.
ریاست زراعت ولایت هرات امسال ٢٠٠ تن عسل تولید کرده است.
بشیراحمد آمر امور زراعتی ولایت هرات می‌گوید که در سراسر ولایت هرات ۵٩٣ فارم زنبورداری وجود دارد. از این فارم‌ها ٢٠٠ متریک تن عسل امسال به دست آمده است.
او افزود که همه ساله فارم‌های زنبورداری، تعداد کندو و مقدار عسل در این ولایت رو به افزایش است.
بیش‌ترین عسل در ولسوالی‌های انجیل، مرکز شهر، گذره، کرخ، رباط‌سنگی، غوریان، ادرسکن، پشتون‌زرغون، اوبه، چشت شریف، شیندند و گلران ولایت هرات تولید می‌شود.
در ولایت هرات عسل به دو نوع به دست می‌آید عسل کوهی که از نباتات که در کوه می‌روید تغذیه و عسل به دست می‌آید دارای کیفیت و قیمت بالا می باشد .
زنبورها از گل‌های شبدر، گل آفتاب پرست، گل کاسنی،گل اسفنج و گل اکاسی زنبورها تغذیه می‌کنند و عسل تولید می‌شود.
هر کیلو عسل در بازارهای هرات ٧٠٠ تا یک هزار افغانی به فروش می‌رسد.
محمدنبی یک تن از فارم داران زنبور عسل ولسوالی انجیل ولایت هرات است.
او می‌گوید که همه ساله در این ولسوالی عسل زیادی تولید می‌شود. به قول او، عسل این ولسوالی بسیار با کیفیت است و بازار داخلی نیز دارد، اما هر کیلو عسل کوهی، نظر به گل آن تا یک هزار و ٢٠٠ تا یک هزار و ٨٠٠ افغانی خرید و فروش می‌شود.
نعمت‌الله یک تن از زنبورداران ولسوالی شیندند ولایت هرات است. او می‌گوید زنبورداران این ولسوالی کوشش می‌کنند که عسل را به گونه ارگانیک و بدون دست‌برد تولید و به بازار عرضه کنند، اما نبود گل‌ها در چهار فصل زنبورداران را به مشکل مواجه کرده است.

### بدخشان

امسال در بدخشان ۴٨ تن عسل تولید شده است
ریاست زراعت ولایت بدخشان از تولید ۴٨ تن عسل در این ولایت خبر می‌دهد.
سید معین‌الدین عینی، رییس زراعت ولایت بدخشان می‌گوید که در سطح ولایت بدخشان در حدود ۵٩٣ فارم زنبور پروری فعالیت می‌کنند که ١٦ هزار ١٦٠ کندو در این ولایت وجود دارد.
او افزود که سال گذشته چهار یا پنج مرتبه در یک سال عسل جمع‌آوری می‌شد اما شوربختانه امسال نسبت به سردی هوای زنبورداران تنها یک بار توانستد عسل جمع‌آوری کنند.
عسل بدخشان از نام نیک و کیفیت بالا برخوردار است و نسبت به سایر ولایت‌ها کیفیت و مزه‌ی خوش دارد.
جلیل یک تن از زنبورداران ولسوالی بهارک ولایت بدخشان است. او می گوید که هر سال عسل زیاد به دست می‌آورد، اما امسال زیاد هوا بی‌موقع سرد شد و آن‌ها نتوانستند عسل تولید بیش‌تر به دست بیاورند. او می‌گوید: «عسل با کیفیت داریم. بازار داخلی خوب دارد.»
محب یک تن از فارم‌داران ولسوالی اشکاشم ولایت بدخشان است. او می‌گوید که عسل کوهی خوب تولید داریم و همه‌ساله قیمت عسل بالا است، هر کیلو عسل خالص بدخشانی به بهای یک هزار و ٢٠٠ افغانی در بازارهای داخلی فروخته می‌شود.عسل تولیدی ولایت‌های بدخشان، ننگرهار، تخار، بلخ، هلمند، پنجشیر، پروان، کاپیسا، غزنی و هرات، از همه خوش‌نام‌تر است.

### زنبور عسل با زنبورهای دیگر فرق دارد

زنبور عسل با زنبورهای دیگر فرق دارند و در عین حال بسیار شبیه آن‌ها هستند، به همین دلیل است که این دو گروه اغلب با هم اشتباه گرفته می‌شوند. اگر شما از آن حشره‌ای که دور و بر برگر و چپس شما می‌پرَد، می‌ترسید، تقصیر را گردن زنبور عسل نیندازید. آن‌ها نوع دیگری از زنبورها هستند چون مهم‌ترین ویژه‌گی شاخص زنبورهای عسل، نظم در خوراک و رژیم غذایی است. انواع زنبورهای دیگر شکارچی و مردارخوار هستند اما زنبورهای عسل گیاه‌خوار اند و خود و بچه‌های‌شان فقط از شیره و گرده موجود در گل‌ها تغذیه می‌کنند.بیش‌تر زنبورهای عسل، عسل تولید نمی‌کنند.
همه می‌دانند که زنبورهای عسل در کندو زنده‌گی می‌کنند، با هزاران زنبور کارگر که مدام مشغول بدل‌ساختن شهد گل‌ها به شیره شیرین معروف‌شان هستند اما بیش‌تر گونه‌های زنبور از میان بیش از ٢٠ هزار گونه در جهان موجوداتی تک‌زی هستند که لانه‌های ساده خودشان را با مخلوط چسب‌ناک شیرینی که از شهد و گرده گل‌ها به عمل می‌آورند و به آن «نان زنبور عسل» می‌گویند، می‌سازند.
از فاصله خیلی نزدیک به سر زنبور عسل نگاه کنید و سه برآمده‌گی درخشان مثل تیله‌های شیشه‌ای در میان دو چشم آن‌ها قرار گرفته است. درست است که این چشم‌ها کارشان دیدن تصویر اشیا نیست، اما این «نقطه‌های چشم‌مانند» می‌توانند شدت نور و شکل و فرم و پراکنده‌گی آن را دنبال کنند و این به ردیابی زنبورهای عسل به خصوص در هنگام تاریکی هوا کمک می‌کند.

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(٠٧٦٦٤٠٠٦٠٠ - akbar_rostami١٠@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ٠٧٩٣٤٠٥٥٩٩ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ٠٧٦٦٤٠٠٦٠٠ ٠٧٤٨٠٠٩١٣٧
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 122 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ December 26th ▪ 2020

### د البدر کمپلکس د دوو نویو تولیدي برخو په پرانیست غونډه کې د کرنې وزیر:

# تر راتلونکو څلورو کالو پورې د چرګانو غوښې په تولید کې پر ځان بسیاینه، زموږ له لومړیتوبونو څخه دی



د البدر تولیدي کمپلکس د چرګانو د دانې تولید او د حبوباتو د پروسس برخې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

په دې غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي وویل، چې د کرنې وزارت له لومړیتوبونو څخه یو هم د مالدارۍ د سکټور پیاوړتیا ده او د کرنې وزارت هلې ځلې کوي، چې د خصوصي سکټور په همکارۍ او مرستې تر راتلونکو څلورو کلونو پورې افغانستان د چرګانو غوښې د تولید په برخه کې پرځان بسیا کړي.

ښاغلی احدي وویل، چې د هېواد په کچه دمګړۍ دکال نږدې ۲۲۰زره ټنه د چرګانو غوښته تولیږي، خو د افغانستان اړتیاوې په کال کې څه باندې ۲۹۰ زره ټنه ده.

دکرنې وزیر دغه راز وویل، چې د چرګانو روزنې د فارمونو پر وړاندې یوه لویه ستونزه د چرګانو د دانې نه شتون وه، چې له نیکه مرغه دا ستونزه هم د پانګوالو په پانګونې سره هواره کیږي، چې یوه بېلګه یې د البدر د چرګانو د دانې تولیدي فابرکه ده، چې د ورځې ۱۲۰ ټنه د چرګانو دانې تولیدوي.

دکرنې وزیر زیاته کړه، چې د کرنې وزارت د کرنې، مالدارۍ او بڼوالۍ په برخو کې له پانګوالو سره تل مرسته او ددوی ملاتړ کوي او دا لړۍ به روانه وي.

په همدې حال کې د البدر د کمپلکس مشر بازمحمد غیرت د کرنې له وزیر څخه د مننې ترځنګ وویل، چې په یاد کمپلکس کې په نېغه او نانېغه ډول ۸۰ زره کسان په دندو بوخت دي.

ښاغلی غیرت د کرنې وزارت له مشرتابه څخه د همکاریو په پار مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې د افغانستان په کچه ۱۱زره د چرګانو فارمونه شتون لري، چې ۲۰۰ زره چرګوړې تولیدوي او د هېواد په کچه په ټولیزه توګه ۱۵ فابریکې شتون لري، چې د چرګانو دانې تولیدوي.

هغه دغه راز وویل، چې د البدر د چرګانو دانې تولیدي فابریکه په ساعت کې لس ټنه د چرګانو دانه تولید وي او درې نمبرې لري چې د ۱۰ – ۲۰او ۳۰ نومونو یادیږي.

د البدر د کمپلکس مشر د کرنې له وزیر څخه غوښتنه وکړه، چې د خپل سرو صادراتو مخه ونیول شي. هغه وویل «د خصوصي سکټور د پیاوړتیا په پار د خپل سرو صادراتو مخه دې ونیول شي، زموږ تولیدي کمپلکس ډېرې وړتیاوې لري، د البدر دچرګانو روزنې فارم، په ۴۵ ورځو کې دوه زره قطعې چرګان تولید لري. د البدر د حبوباتو د پروسس او بسته بندۍ تولیدي فابریکه په ۲۴ ساعتونو کې ۸۰ متریک ټنه حبوبات او د زاهد ذکي البدر د وریجو د پروسس او بسته بندۍ فابریکه، په ۲۴ ساعتونو کې ۱۲۰ متریک ټنه وریجې په اعلي ډول پروسسوي.»

د البدر تولیدي کمپلکس د کابل ولایت د بګرامیو په ولسوالۍ کې په۲۵۰ جریبه ځمکه کې د ۴۱ میلیون ډالرو په لګښت جوړ شوی دی، چې دمګړۍ په شپږو برخو کې کړنې ترسره کوي، چې په کې د البدر دچرګانو روزنې فارم، د البدر د چرګانو د دانې تولیدي فابریکه، د البدر د وریجو د پروسس او بسته بندۍ فابریکه، د البدر د حبوباتو د پروسس او بسته بندۍ فابریکه، د البدر د کارتن جوړولو فابریکه، د البدر د بوجیو جوړولو فابریکه، د البدر دمالدارۍ فارم، د البدرد تصفیه شویو ډبروسکرو فابریکه، د البدرمعدني اوبوتولید فابریکه، د البدرکرنیزبڼ او د البدرد حبوباتو د پروسس فابریکې شامل دي.

---

### محمد یوسف:

# د کرکیلي د نویو لارو چارو په پلي کولو سره مې د وریجو حاصلات ډېر شوي



✍ صدیق خالد
مسوول ارتباطات پروژه‌ی
«CPMO» وزارت زراعت

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په هېواد کې دکرنیزې ټکنالوژۍ او میکانیزه کرکېلي د دودولو په برخه کې تل هلې ځلې کوي ترڅو بزګران د کرنې له نوي ټکنالوژۍ سره بلد او میکانیزه کرکېلي سره بزګران وکولای شي، چې له خپلو کروندو څخه ښه او باکیفیته حاصل ترلاسه کړي، چې له یوې خوا د بزګرانو عواید ډېر شي او له بلې خوا هېواد د کرکېلي له پلوه پر ځان بسیا شي.

د هغو بزګرانو له ډلې، چې د کرنې وزارت له خوا د کرکېلي له نویو لارو چارو سره بلد شوي او میکانیزه کرکېله یې زده کړې دي یو هم د کندز ولایت د التي ګنبد دکلي اوسیدونکی محمدیوسف دی.

محمدیوسف وویل، چې کلونه کلونه یې په دودیزه بڼه بزګري کوله او د بزګرۍ له ټکنالوژۍ او میکانیزه کرکېلي سره نه وو بلد هغه وویل «له کلونو را په دې خوا مې په خپله کرونده کې د وریجو کرکېله په دودیزه بڼه تر سره کوله؛ زحمت یې زیات خو حاصل یې په نشت حساب و.» د محمدیوسف د وریجو د کروندو حاصلات ځکه د کمیت او کیفیت له پلوه د قناعت وړ نه وو، چې محمدیوسف او دهغه په کلي کې نور کروندګر د کرکیلي له نویو لارو چارو سره په بشپړه توګه بلد نه وو او د کرکیلي اړوند چارې لکه د ځمکې هوارول، اوبولګول، تخم شیندل او د حاصلاتو راټولول به په دودیزه توګه ترسره کېدل.

محمدیوسف ته سږکال د کرنې وزارت اړوند د امو پنځمې سکټوري پروژې (P-ARBSP) له خوا د شولې د کرکېلي یوه نندارېزه قطعه جوړه شوه، چې حاصلات یې ډېر او د اوبو ضایعات یې کم و. یاد نندارېزه کرونده ددې پروژې د مسلکي کارکوونکو له خوا د «RIPA» یا خطي سیسټم په بڼه کرل شوې وه. او په دې نندارېزه کرونده کې د محمدیوسف ترڅنګ ددې کلي ۹۵ بزګران د وریجو د کرکیلي نوې لارې چارې لکه د ځمکې هوارول، اوبولګول، په کرونده کې له کیمیاوي او حیواني سرو ګټه پورته کول، تخم شیندل، دهرزه بوټو لرې کول او همدارنګه د حاصلاتو راټولولو نوې او عصري لارې چارې زده کړل.

محمد یوسف ددې نندارېزې قطعې په هکله وایي «پخوا به مې د وریجو کرکیله په عنعنوي ډول تر سره کوله خو سږ کال د امو پنځمې سکټوري پروژې په مرسته د« RIPA» په شکل د شولو یوه نندارېزه قطعه راته جوړه شوه، چې حاصل یې خورا ډېر او د اوبو ضایعات او د کیمیاوي سرې مصرف یې لږ او همدارنګه رېبل یې آسانه وه.» محمدیوسف وویل، چې په نوي او عصري بڼه د وریجو کرکېله له اقتصادي پلوه دده ژوند بدل کړ.

محمدیوسف وایي «ددې نندارېزې قطعې په لېدو به تل په همدې شکل د وریجو کرکېله کوم، ځکه هم یې چارې اساني دي او هم یې حاصل ښه دي. د کرنې وزارت څخه هم مننه کوم، چې په هره برخه کې له موږ بزګرانو سره مرسته او همکارۍ کوی.»

هغه زیاته کړه، په رواجي سیستم کې د یو جریب ځمکې لپاره مې تېرکال ۳۵ کیلو ګرامه تخم وکارول او له یادې کروندې څخه مې یوزر او ۱۴۵ کیلو حاصل ترلاسه کړه خو په خطي سیستم کې د همدې ځمکې لپاره مې سږکال یوازې شپږ کیلو ګرامه تخم وکارول او په پایله کې مې یوزر او ٦٨٠ کیلو ګرامه وریجې راټول او له دې لارې مې نږدې ٦٠ زره افغانۍ عاید ترلاسه کړه. محمد یوسف وویل «په خطي سیستم کې خیشاوه په آساني سره ترسره شوه خو په رواجي سیستم کې موږ د خیشاوه کولو په برخه کې له خورا ګڼو ستونځو سره مخامخ و.»

دکتار « RIPA» په ډول دشولو کرل د نوي او عصري میتودونو د زده کړې او رواجولو په موخه جوړیږي. په دې بڼه د شولو کرکېله د شولو حاصلات له ۲۵ تر ۳۰ سلنه زیاتوي.د چارواکو په خبره که چیرې شولې په محلي توګه دپاشان په ډول وکرل شي نو له یوه هکټاره ځمکه یې په منځنۍ کچه څلور ټنه شولې په لاس راځي او که چیرې په عصري توګه د کتار په بڼه وکرل شي نو له یوه هکټاره ځمکه یې په منځنۍ کچه شپږ ټنه شولې په لاس راځي.

له همدې امله دکرنې وزارت دترویج کارکوونکي په کلیو او ولسوالیو کې دیاد میتود درواجولو په موخه بزګرانو ته د شولې نندارېزې قطعې جوړوی.

باید وویل شي، چې د امو پنځمې سکټوري پروژه (P-ARBSP)د هېواد په درو ولایتونو «بدخشان، تخار او کندز» کې د نورو کړنو ترڅنګ د وریجو، لوبیا، پنبې، غنمو او جوارو نندارېزې قطعې جوړوي او په دغو نندارېزو قطعو کې د یادو سیمو بزګرانو ته عملي او نظري زده کړې ورکوي. د امو پنځمې سکټوري پروژه (P-ARBSP)د آسیایي پراختیایي بانک (ADB) او اروپایي (EU)له خوا تمویلیږي.